د افغانستان اسلامي امارت

د پوهنې وزارت

د لوګر ولایت د پوهنې ریاست

د کیفیت تضمین آمریت

# د لوګر ولایت د عملیاتي پلان د کړنو پرمختګ کلنی تشریحي راپور




د راپور ورکولو دوره: (حمل ـ حوت) ۱۴۰۴ هـ. ل کال

## مطالبو نوملړ

د ۱۴۰۴ کال د کلني راپور د ترتیب کوونکو نوملړ ........ 1
د ولایت په هکله عمومي معلومات ........ 2
سریزه ........ 3
لومړی برخه ........ 4
د کړنو لنډیز ........ 4
دویمه برخه ........ 6
د عملیاتي پلان د پرمختګ څرنګوالی د پوهنې وزارت د عناصرو او برنامو پر بنسټ ........ 6
برنامه 1: اسلامي زده کړې ........ 6
1.1 طالب العلم او حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړې زده کوونکی ........ 6
1.2 مدرسی/ ښوونکی/ښوونکی ........ 7
1.3 نصاب ........ 9
1.4 ښوونیزه ارزونه ........ 9
1.5 ښوونیز چاپیریال ........ 9
1.6 د ټولنې ګډون ........ 10
1.7 مدیریت ........ 10
برنامه 2:ښوونه او روزنه ........ 11
2.1 زده کوونکی ........ 11
2.2 ښوونکی ........ 15
2.3 نصاب ........ 18
2.4 ښوونیزه ارزونه ........ 19
2.5 ښوونیز چاپېریال ........ 19
2.6 د ټولنې ګډون ........ 27
2.7 مدیریت ........ 28
برنامه 3: تضمین کیفیت ........ 32
3.7 مدیریت ........ 32
برنامه 4: مالي او اداري ........ 35
4.1 طالب العلم/حافظ/زده کوونکی/د سواد زده کړې زده کوونکی ........ 35
4.2 مدرس/ښوونکی/ښوونکی ........ 35
4.3 نصاب ........ 36

4.4 ښوونیزه ارزونه ........................................................................................................ 36
4.5 ښووونیز چاپیریال ........................................................................................................ 36
4.6 د ټولنې ګډون ........................................................................................................ 38
4.7 مدیریت ........................................................................................................ 39
5: پوهنې ریاست اړوند (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان و...) ........................................................................................................ 40
5.1 طالب العلم، حافظ، زده‌کوونکی او سواد زده‌کوونکی ........................................................................................................ 40
5.2 مدرس/ښوونکی/ښوونکی ........................................................................................................ 41
5.3 نصاب ........................................................................................................ 41
5.5 ښووونیز چاپیریال ........................................................................................................ 41
5.6 ټولنې ګډون ........................................................................................................ 41
5.7 مدیریت ........................................................................................................ 41
دریېمه برخه ........................................................................................................ 43
غیر پلاني فعالیتونو او لاسته راوړنو برخه ........................................................................................................ 43
څلورمه برخه ........................................................................................................ 48
تحلیلی جدول ........................................................................................................ 48
پنځمه برخه ........................................................................................................ 99
د پام وړ ستونزې او وړاندیز شوې حل لارې ........................................................................................................ 99
شپږمه برخه ........................................................................................................ 101
مالي راپور تحلیل ........................................................................................................ 101
اوومه برخه ........................................................................................................ 102
ملپانې ........................................................................................................ 102

## د ۱۴۰۴ کال د کلني راپور د ترتیب کوونکو نوملړ

| اسم و تخلص | وظیفه | ایمیل ادرس | شماره مبایل /واتساپ | امضاء |
|---|---|---|---|---|
| محمد عیسی «مخلص» | کیفیت تضمین آمر | نه لري | ۰۷۷۸۷۱۹۱۹۹ | |
| مولوی عبیدالله «هشام» | آمر مالی و اداری | obidullahhesham@gmail.com | ۰۷۷۹۵۳۷۶۴۵ | |
| حافظ شهیدالله «اخندزاده» | ښوونې او ارزونې آمر | نه لري | ۰۷۴۹۵۸۸۰۰۸ | |
| مولوی عبدالمومین«صدیقی» | اسلامي زده کړې آمر | نه لري | ۰۷۷۵۵۴۲۲۱۱ | |
| ذبیح الله ((قریشی)) | څارنې او ارزونې مدیر | نه لري | ۰۷۴۸۲۱۸۵۰۲<br>۰۷۹۴۶۴۱۶۱۲ | |
| زرګی «تابش» | راپورونو تحلیل او توحید غړی | Zargaistanikzai@gmail.com | ۰۷۷۵۵۲۴۵۳۵ | |

د پوهنې د رئیس تاییدي:

| اسم و تخلص | وظیفه | ایمیل ادرس | شماره مبایل /واتساپ | امضاء |
|---|---|---|---|---|
| الحاج مولوی عبدالرحمن «حمیدی» | د لوګر پوهنې رئیس | نه لری | 0785046999 | |

د پوهنې وزارت

## د ولایت په هکله عمومي معلومات

### د لوګر ولایت پېژندنه:

**لوګر ولایت د افغانستان د۳۴ ولایتونو له ډلې څخه په جنوبي زون کې پروت یو مهم مرکزي ولایت دی.**
**د دې ولایت مرکز د پل علم ښار دی چې۳،۸۸۰ کیلو متره مربع مساحت لري او د مرکزي احصایې د اټکل له مخې یې د وګړو شمېر په ۱۳۹۹ لمریز کال کې ۵۰۰،۰۰۰ تنه ښودل شوی دی.**
**ډیری و ګړي یې په پښتو ژبه خبرې کوي او یو شمیریې دري وایي او ډیرې قبیلې پکې شتون لري.**
**نوموړی ولایت د کابل ښار په ٦۴ کیلومترۍ کې موقعیت لري.**
**لوګر ولایت د مرکز په شمول ۷ ولسوالۍ لري چې په لاندې توګه ور څخه یادونه کوو:**

1. **پل علم (مرکز)**
2. **محمدآغه ولسوالۍ**
3. **برکي برک ولسوالۍ**
4. **خروار ولسوالۍ**
5. **ازره ولسوالۍ**
6. **خوښی ولسوالۍ**
7. **چرخ ولسوالۍ.**

**ښوونې او روزنې ته د یاد ولایت د وګړو لاس رسی د پخوا په پرتله ښه شوی دی لوګر ولایت ۳۲۲ بابه دولتي او خصوصي ښوونیز او روزنیز مرکزونه چې له دې جملې څخه ۳۲ بابه خصوصي عمومي زده کړو مرکزونه او ۲۹۰ بابه دولتي عمومي زده کړو مرکزونه دي چې په ټوله کې ۱۰۲ بابه لیسې۷۷ بابه منځنې ښوونځې او۱۴۳ بابه لومړني ښوونځې پکې شتون لري.**
**د اسلامي زده کړو په برخه کې ۳۰۳ بابه مدرسې، ۹ بابه دارالحفاظونه او ۲ بابه دارالعلومونه شتون لري.**
**ددې ولایت د مرکز په شمول په ۵ ولسوالیو کې (محمداغه، برکي برک، خوښی، څرخ او ازره) ټولټال ۷۱ باب لیک لوست زده کړو دولتي کورسونه فعال دي چې په یادو مرکزونو کې ۱،۲۲۵ تنه نارینه او ښځینه زده کوونکي په زده کړو بوخت دي.**
**د دې ولایت په مرکز، کلیو، باندېو او لرې پرتو سیمو کې د اوسیدونکو د ژوند او زده کړې کچه سره توپیر لري چې ٦٥ سلنه وګړي په مرکز (ښاري) سیمو او ۳۵ سلنه خلک په کلیوالي سیمو کې د زده کړې له نعمت څخه برخمن دي، دغه راز دا ولایت یو دولتي پوهنتون لري چې د ښوونې او روزنې، زراعت او شرعیاتو پوهنځې پکې فعال دي او یو خصوصي انستیتوت د (میلاد نبي خصوصي طبي زده کړو انستیتوت) په نامه هم په فعالیت بوخت دی.**

# سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم

**الحمد لله رب العالمین والصلوة والسلام علی سید الانبیاء والمرسلین محمد وعلی آله و اصحابه اجمعین.**

**اما بعد:**

**د ښوونې او روزنې نظام د یو ملت د پرمختګ، ثبات او یووالي بنسټیز رکن بلل کېږي. د همدې موخې لپاره، د لوګر ولایت د پوهنې ریاست د ۱۴۰۴ کال عملیاتي پلان د پوهنې وزارت د پالیسۍ او ستراتیژۍ پر بنسټ جوړ شوی، چې هدف یې د زده‌کړې د کیفیت لوړول، د زده‌کوونکو لپاره د سالم او هڅوونکي چاپېریال رامنځته کول، او د ښوونیز بهیر ټول شموله، اغیزمن او روڼ کول دي.**

**په ولایتي کچه عملیاتي پلان د اوو مهمو عناصرو په پام کې نیولو سره ترتیب شوی، چې عبارت دي له: زده‌کوونکی، ښوونکی، نصاب، زده‌کړه‌ییزه ارزونه، زده‌کړه‌ییز چاپېریال، د ټولنې ګډون او مدیریت دی چې؛ دغه عناصر د ښوونیز نظام د بنسټیزو برخو استازیتوب کوي، او د هر یوه اغېزناکه تطبیق یې د ښوونیز بهیر پرمختګ تضمینوي. یاد عملیاتي پلان د مرکز په ګډون په ټولو ولسوالیو کې د پلي کېدو په حال کې دی چې د کړنو پرمختګ د څرنګوالي په اړه یې د راپور ورکولو مهال وېش سره سم په کمي او کېفي بڼه منظم میاشتني، ربعوار او کلني راپورونه چمتو او پوهنې وزارت ته د هوډ نیونې په موخه استول کېږي.**

**د عملیاتي پلان دکړنو د پرمختګ تشریحي راپور جوړولو یوازینۍ موخه د پلانونو د تطبیق او کړنو د پرمختګ له څرنګوالي څخه په بېلابېلو وختونو کې ډاډ تر لاسه کول دي تر څو د اداري په بېلابېلو برخو کې د لاسته راوړنو، ستونزو، ننګونو، ضعف او قوت څخه معلومات ترلاسه کول او د ترلاسه شویو معلوماتو په رڼا کې خپل راتلونکي پلانونو او اړوند چارو ته په کړنو کې روڼتیا ورکول، د کار د کیفیت او کمیت په هکله کره معلومات چمتو کول، دکار نیمګړتیاوې او خلاوې روښانه کول، ستونزې تشخیصول او دهغې حل لارې په ګوته کول، اړتیاوې تحلیل او تجزیه کول او همدارنګه مالي لګښتونه روښانه او د هغې نیمګړتیاوې په ګوته کول دي.**

**د عملیاتي پلان دکړنو د پرمختګ نهه میاشتنی راپور د لوګر ولایت پوهنې ریاست په کچه د ۱۴۰۴ کال د دریېمې ربعې لپاره د پوهنې د اووه ګونوعناصرو پر بنسټ چمتو او د اعتبار وړ دی. یاد راپور د لاندې برخو درلودونکې دی:**

**۱: د کړنو لنډیز**
**۲: د راپور تفصیلي برخه**
**۳: د پلان څخه بهر فعالیتونو برخه**
**۴: د پایلو او تحلیل برخه**
**۵: د ستونزو برخه**
**٦: مالي راپور**
**۷: ملپاتې**

# لومړی برخه

## د کړنو لنډیز

### زده کوونکی

- د دې ولایت په کچه، ۱۵،۴۲۲ تنه په مدرسو او دارالحفاظونو کې جذب شوي دي.
- د دې ولایت په کچه، د دارالعلومونو له لومړي تولګي څخه تر څوارلسم ټولګي پورې ۲،۲۳۹ تنه طالب العلمان جذب شوي دي.
- د یاد ولایت په کچه، د خامسې او حفظ دورې ۱۲۴ سندونه (د خامسې ۱۱٦ او د حفظ ۸) ویشل شوي دي.

### ښوونکي

- د لوګر ولایت ولایت په کچه، د ۱۰۷ خالي بستونو ډکولو په موخه، له استادانو څخه د لاربنود له مخې ازموینه واخیستل شوه او په پایله کې نوموړي کسان د خپلې رشتې سم په تشو بستونو کې وګمارل شول.
- د دې ولایت په کچه،۵۰ د پنځم او ۵۰ د شپږم بستونو کارکوونکو ته د رقابتي ازموینو د تطبیق په موخه، د کارکوونکو چارو لوی مدیریت له لوري اړینې لارښوونې ترسره شوې دي

### نصاب

- د لوګر ولایت کچه، د ساینس۵۰ ټوکه او د ریاضیاتو ۵۰ ټوکه د تجربو لاربنود کتابونه د ښوونکو او دارالعلومونو مدرسینو ته ویشل شوي دي.

### ښوونیزه ارزونه

د دې ولایت په کچه ۲۰۷ د خامسه درجې علما کرامو سندونه د دوولسم ټولګي معادل، ۳۱ تنه علماء کرامو سندونه د څوارلسم ټولګي معادل او همدارنګه د ۱۰۱ تنو د حفظ سندونه تثبیت او ورته ویشل شوي دي.

### ښوونیز چاپیریال

- د دې ولایت د ٦۷ بابه ښوونیز مرکزونه اړوند ۲۴۱ درسي ټولګي مناسب درسي چاپیریال او سرپناه نه لري.
- د لوګر ولایت اړوند د ابراهیم خیل، حمید الله فاروقی او عثمان خیل منځنې ښوونځیو ته ۳ بابه د ریاضي او ساینس لابراتوارونه جوړ شوي دي.

### د ټولنې ګډون

- دلوګر ولایت په کچه، د ازرې پوهنې امریت اړوند افضل المدارس دینی مدرسې ته ۱،٦٦۴ متر مربع ځمکه ورکړل شوې ده.
- د ښوونیزو پروګرامونو د ښه تطبیق په موخه د مرکز په کچه ۳، د ولسوالیو په کچه ۸ او د کلیو په کچه ۱٦۳ غونډې ترسره شوې دي.

### مدیریت

- د دې ولايت په کچه د عرفان مجلې ۲۲۵ ټوکه، د بخوان او بينديش مجلې ۲۱۰ ټوکه او د پوهنې اونيزې ۱،۱۲۰ ټوکه مجلې ويشل شوې دي.
- د دې ولايت پوهنې رياست اړوند د داخلي امريتونو او مديريتونو ۲۰۷ تنه کارکوونکو د دعوت او ارشاد نصاب د اسلامي زده کړو امريت له لوري تدريس شوی دی، همدارنګه يادو کارکوونکو د صورت سيرت څخه هم څارنه ترسره شوې او لازمې اسلامي لارښوونې ورته شوې دي.
- د ياد ولايت په کچه، ۲۰۷ تنه د پوهنې کارکوونکو ته د دعوت او ارشاد نصاب تدريس شوی دی.

## د پام وړ ستونزې

- د ښوونکو او اداري کارکوونکو لپاره د روزنيز پروګرامونو کمښت.
- دمسلکي ښوونکو کمښت.
- د معلول زده کوونکو لپاره د خاص مرکزونو نشتون.
- د ۲۵۵ بابه ښوونځيو لپاره د سرپناه کمښت.
- د درسي کتابونو او کومکي موادو کمښت.
- د سواد زده کړې کتابونو کمښت
- د ساينس، رياضياتو او کمپيوټر د لابراتوارې موادو کمښت.
- د کمپيوټر ليبونو او د لابراتوارونو کمښت.
- د لابراتوارونو لپاره د مناسب چاپيريال نشتون.
- د عملياتي پلان ډيری فعاليتونو د ترسره کولو لپاره د بوديجې کمښت.
- د ښوونکو د روزنې مسلکي کادرونو لپاره د ترانسپورټ نشتون.
- د درسي چاپيريال لپاره د ودانۍ، ميز او څوکيو کمښت.

## حل لارې

- د ښوونکو، اداري کارکوونکو، مديرانو او د مسلکي پراختيا غړو لپاره ځانګړي روزنيز پروګرامونه ترتيبول اوهم ورته بودجه ځانګړې شي.
- د مسلکي ښوونکو په تشکيل کې زياتوالی راوستل شي.
- د اسلامي امارت او همکارو مؤسساتو په همکارۍ د معلولينو زده کوونکو لپاره ځانګړي مرکزونه جوړ شي.
- د عادي او يا هم د مؤسساتو له بوديجې څخه د ښوونځيو د سرپناوې جوړې شي.
- د ښوونځيو او زده کوونکو د اړتياوو سره سم دې درسي کتابونه او ممد توکې په ټاکلي وخت برابر او د پوهنې رياست اړوند ښوونځيو ته واستول شي تر څو د زده کړې په بهير کې کوم خنډ او ځنډ رامنځ ته نشي.
- د سواد زده کړو کورسونو د شمېر په تناسب دې کتابونه چاپ شي.
- د ساينس، رياضي او کمپيوټر د لابراتواري موادو لپاره بودجه ځانګړې او په خپل ټاکلې وخت ښوونځيو ته وويشل شي.
- د همکارو مؤسساتو په همکارۍ د دولتي ښوونځيو لپاره مجهز لابراتوارونه او کمپيوټرليبونه جوړول، ترڅو زده کوونکي د نظري زده کړو تر څنګ له عملي زده کړو څخه هم برخمن شي.
- د ښوونځيو د رشتوي اړتياوو سره سم مسلکي او د خپلې رشتې پر بنسټ ښوونکې په دندو وګمارل شي تر څو ياده ستونزه حل شي.

- د عملیاتي پلان د ساحوي فعالیتونو د ترسره کولو لپاره دې باید ځانګړې بودیجه ورکړل شي.
- باید د ښوونکو د روزنې مسلکي کادرونو لپاره د ترانسپورټ آسانتیاوې رامنځته شي.

## دویمه برخه

### د عملیاتي پلان د پرمختګ څرګنوالی د پوهنې وزارت د عناصرو او برنامو پر بنسټ

**دا برخه د پرمختګونو، احصائیوي معلوماتو او شمېرو شننه او سپړنه په بر کې نیسي، چې د عملیاتي پلان د ټاکل شوو عناصرو او لومړیتوبونو لرونکې ده. پرمختګونه د هر پروګرام په کچه د ټاکل شوو شاخصونو او موخو له مخې په مفصل ډول تشریح کېږي.**

### برنامه 1: اسلامي زده کړې

#### 1.1 طالب العلم او حافظ/زده کوونکی/سواد زده کړې زده کوونکی

**<u>1.1.1 لومړیتوب: د زده‌کړو په شرایطو برابرو ماشومانو او افرادو په ځانګړې توګه راستنېدونکو او داخلي بېځایه شوو لپاره د شمولیت د زمینې برابرول</u>**

**1.1 فعالیت: په مدرسو او دارالحفاظونو کې د طالب العلمانو جذبول**

**د ۱۴۰۴ هـ.ش کال د خلورمې ربعې تر پای پورې، اسلامي زده کړو ته د لاسرسي په موخه، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري د اړوندو ولسوالیو په ۲۹۲ بابه دیني مدرسو او دارالحفاظونو کې ۱۵،۴۲۲ تنه طالب‌العلمان جذب شوي دي، چې له دې ډلې څخه ۸،۵۲۹ تنه نارینه او ۱،٦٥٦ تنه ښځینه په مدرسو کې، او ۴،۳۷۷ تنه نارینه او ۸٦۰ تنه ښځینه په دارالحفاظونو کې شامل دي؛ چې په دې سره په دیني مدرسو او دارالحفاظونو کې د دیني زده کړو پراختیا موندلې ده.**

**1.2 فعالیت: په دارالعلومونو کې د شمولیت زیاتوالی**

**د ۱۴۰۴ هـ.ش کال د خلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت د پوهنې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت له خوا په ۲ بابه دارالعلومونو کې ۲،۲۳۹ تنه طالب‌العلمان جذب او شامل شوي دي، چې له دې جملې څخه په لومړي ټولګي کې ۱۵۳ تنه طالب‌العلمان، د ۱-۳ ټولګیو پورې ۵۳۹ تنه، د ۴-٦ ټولګیو پورې ۲٦٦ تنه، د ۷-۹ ټولګیو پورې ٦۲۴ تنه، د ۱۰-۱۱ ټولګیو پورې ۳۹۰ تنه او د ۱۲-۱۴ ټولګیو پورې ۲٦۷ تنه طالب‌العلمان شامل شوي دي. په دې سره هغو خلکو ته د اسلامي زده کړو زمینه برابره شوې ده چې ترې محروم وو.**

**1.3 فعالیت: د اسلامي زده‌کړو په مبیت(لیلیه) کې جذب شوي طالب العلمان**

**د ۱۴۰۴ هـ ش کال د خلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت له خوا د ٦ بابه دیني مدرسو اړوند لیلیو کې ۳۰۰ تنه طالب العلمان جذب شوي دي. چې په دې سره هغه زده کوونکو ته د زده کړې زمینه برابره شوې، چې بېوزلي دي.**

**<u>1.1.2 لومړیتوب: د قران کریم د سیالیو په لاره اچول</u>**

**2.1 فعالیت: د ولایت په کچه د قران کریم د سیالیو په لاره اچول**

**نوموړی فعالیت د اصلاح شوي عملیاتي پلان له مخې حذف شوی.**

1.1.4 لومړیتوب: د شهادت نامو وېش

4.1 فعالیت: د ثانویې او مافوق ثانویې دورو له طالب العلمانو څخه ازموینه اخیستل

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت له لورې، د ۲۳۸ تنه نارینه وو څخه د ثانویې دورې په کچه او ۱۱۵ تنه نارینه وو څخه د مافوق ثانویې دورې په کچه ازموینه اخېستل شوې ده.

4.2 فعالیت: د حفظ او خامسه دورې فارغانو ته د فراغت د سندونو وېش

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت له لورې ۳۰٦ تنه ته د حفظ او خامسه دورې فارغانو ته د فراغت د سندونو ویشل شوي.

1.1.5 لومړیتوب: د شهادت نامو چاپ او وېش

5.1 فعالیت: د عالیه دورې د شهادت نامو چاپ او وېش

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت له لورې په ۷ ولسوالیو کې ۱۷۷تنه د عالیه دورې فارغ علماءکرامو ته شهادتنامې چاپ او ویشل شوې دي.

## 1.2 مدرسی / ښوونکی /ښوونکی

1.2.1 لومړیتوب: د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل کولو لپاره لازم تدبیرونه نیول

1.1 فعالیت: د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل کولو د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او مدرسو ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت له خوا د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو حل لارښود د تطبیق په موخه، د ۳۲۲ بابه دیني مدرسو په کچه د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل په اړه اړینې لارښوونې ترسره شوې دي.

1.2 فعالیت: د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل کولو د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او دارالعلومونو او مدرسو ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت له خوا د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل کولو د لارښود د تطبیق په موخه، د اړوندو پوهنې آمریتونو ۴ بابه دارالعلومونو او ۳۲۲ بابه دیني مدرسو ته د رشتې خلاف مدرسینو د ستونزو د حل کولو د لارښود د تطبیق په اړه اړینې لارښوونې ترسره شوې دي.

1.2.2 لومړیتوب: لومړۍ دورې/ اصول صنفي لپاره د مناسبو ښوونکو د ګمارلو لپاره لازمو تدبیرونه نیول

2.1 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو مدرسو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو آمریت د مسلکي پراختیا غړو له لورې د لومړۍ دورې/ اصول صنفي لپاره د مناسبو ښوونکو د ګمارلو په اړه، د مرکز او ولسوالیو په کچه ۱۱ باب دیني مدرسو اړوند ۱۸ تنه مدرسینو ته اړینې لارښوونې ترسره شوې دي.

2.2 فعالیت: د لاربنود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو دارالعلومونو او مدرسو ته لاربنوونه

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت له لوري د دې ولایت په کچه د لومړۍ دورې/ اصول صنفي لپاره د وړ ښوونکو د ګمارلو په موخه ۲ بابه دارالعلومونو او ۱۹۳ بابه دیني مدرسو ته اړینې لاربښوونې تر سره شوې دي.

<u>1.2.3 لومړیتوب: د ښوونیزو مرکزونو په تشو بستونو کې د رشتې سره سم د مسلکي مدرسینو په وخت ګمارل</u>

3.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه په تشو بستونو کې د رشتې سره سم د مسلکي مدرسینو د ګمارنې په موخه د کړنلارې سره سمې ازموینې اخیستل

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو آمریت له لوري په ۱۰۲ تشو بستونو کې د ګمارنې په موخه ازموینه اخېستل شوې، او په اړوند برخو کې ځای په ځای شوي دي.

<u>1.2.4 لومړیتوب: د علمي کادر اجرا کول</u>

4.1 فعالیت: د دارالعلومونو د ښوونکو د علمي رتبې او علمي کادر اجرا کول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند د دارالعلومونو نویو استخدام شویو ښوونکو کې د علمي کادر په شرایطو برابر کسان نشته.

<u>1.2.5 لومړیتوب: د غیر مسلکي او رشتې خلاف ښوونکو او مدیرانو د وړتیاوو لوړول او مسلکي پراختیا</u>

5.1 فعالیت: په دارالحفاظونو او هغه مدرسو کې چې د حفظ د شعبو لرونکې دي د حفظ د ښوونکو لپاره د سمینار وړاندې کول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، یاد فعالیت د بودجې نشتون له کبله تر سره شوی نه دی.

<u>1.2.6 لومړیتوب: د ولایتونو او ولسوالیو د مدرسینو د مسلکي پراختیا غرو لپاره د مسلکي ورکشاپونو دایرول</u>

6.1 فعالیت: د مدرسینو د مسلکي پراختیا د غړو لپاره د مسلکي ورکشاپونو دایرول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د مرکز اړوند د مسلکي پراختیا غړو له لوري،د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند د مرکزي هستې ۷ تنه د مسلکي پراختیا غړو ته او د مرکزي هستې له لوري د ولسوالیو اړوند ۲۴ تنه د مسلکي پراختیا علمي غړو ته میتودیک ورکشاپ ورکړل شوی، چې په دې سره د مدرسینو وړتیاوې لوړې شوي او د زده کړو کیفیت په تولیزه توګه ښه شوی دی.

<u>1.2.7 لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو په ښوونیزو مرکزونو کې د مدرسینو او ښوونکو د ارزونې څېړنه</u>

7.1 فعالیت: په ولایتونو او ولسوالیوکې د مسلکي پراختیا د غړو په واسطه د مدرسینو ارزونه کول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند د ولسوالیو د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري، د ۴۳۰ تنه نارینه ښوونکو ۱۰۰٪ ارزونه ترسره شوې ده؛ چې په دې سره د ښوونې او روزنې کیفیت ښه شوی دی او همدارنګه د ښوونکو علمي، عملي او تدریسي وړتیاوې پیژندل شوي، کمزورتیاوې یې معلومې شوي.

<u>1.2.8 لومړیتوب: له ولایتونو څخه د راغلو راپورونو تحلیل او تجزیه</u>

8.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو د مسلکي پراختیا د غړو د راغلو راپورونو تحلیل او تجزیه کول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د اسلامي زده کړو آمریت اړوند د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د اړوندو ولسوالیو د تیرو ۱۲ میاشتو راپورونه پوهنې ریاست ته رارسیدلي او د راپورونو د تحلیل او توحید غړو له خوا تحلیل او توحید شوي او وزارت مقام ته استول شوي دي.چې په دې سره د ښوونې او روزنې ستونزې، ننګونې، فرصتونه او پرمختګونه په دقیق ډول پېژندل شوي دي.

## 1.3 نصاب

~~1.3.2 لومړیتوب: د دیني مدرسو د ښوونیز نصاب مطابق د اسلامي زده‌کړو معینیت د ښوونیزو مرکزونو لپاره د درسي کتابونو پېرل~~

2.1 فعالیت: د دیني مدرسو د نصاب سره سم د درسي کتابونو وېش

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې دا فعالیت نه دی تر سره شوی.

## 1.4 ښوونیزه ارزونه

~~1.4.1 لومړیتوب: د علماء کرامو د اسنادو ارزونه او د سویې تثبیتول~~

1.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د دوولسم او څوارلسم ټولګیو علمای کرامو د سویې تثبیتول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د لوګر د پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو امریت له لوري، د دولسم ټولګي د معادل سندونو د تثبیت په موخه د ۲۰۷ تنو خامسه درجې علماء کرامو او ۱۰۱ تنو د قرآن کریم حافظانو سندونه، او همدارنګه د څوارلسم ټولګي لپاره د ۳۱ تنو علماء کرامو سندونه تثبیت او ویشل شوي دي.

~~1.4.2 لومړیتوب: د ولایتونو په کچه د ګډې ازموینې اخیستل~~

2.1 فعالیت: د ثانویه دورې (ثالثه، رابعه او خامسه) درجو ګډه ازموینه اخیستل

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د ثانویه دورې (ثالثه، رابعه او خامسه) درجو ګډه ازموینه نه ده اخېستل شوې ځکه چې، یاده ازموینه د حوت میاشت په جریان کې د وزارت مقام د هدایت په اساس اخېستل کیږي.

2.2 فعالیت: د فوق ثانویه دورې (سادسه او سابعه) درجو ګډه ازموینه اخیستل

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د فوق ثانویه دورې (سادسه او سابعه) درجو ګډه ازموینه نه ده اخېستل شوې ځکه چې، یاده ازموینه د حوت میاشت  په جریان کې د وزارت مقام د هدایت په اساس اخېستل کیږي.

## 1.5 ښوونیز چاپیریال

~~1.5.1 لومړیتوب: په مرکز او ولایتونوکې د مدرسو رامنځته کول~~

1.1 فعالیت: د نارینه طالب العلمانو لپاره د دیني مدرسو جوړول

نوموړی فعالیت د ۱۴۰۴ کال د عملیاتي پلان څخه حذف شوی.

1.5.2 لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو د رسمي مرکزونو رامنځته کول، د نوم بدلول، ارتقاء، د نوعیت بدلون او مُبیت رامنځته کول

2.1 فعالیت: په ۳۴ ولایتونو کې د لیلیو جوړول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د وزارت مقام له لوري طالب العلمانو ته د نوې لیلیې د جوړیدو په اړه امر نه دی شوی.

2.2 فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د نویو ښوونیزو مرکزونو تأسیسول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت په کچه، ۲۵ ښوونیزو مرکزونو تاسیس شوي، چې له دې ډلې یو باب په مرکز او ۱ باب په محمدآغه کې وو.

2.3 فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو مرکزونو د نوعیت بدلول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د اسلامي زده‌کړو۱۲ ښوونیزو مرکزونو له کلیوالی څخه په خصوصی مدرسو نوعیت بدل شوی.

2.4 فعالیت: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو مرکزونو د نوم بدلول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د ۱ باب مدرسې نوم له بي بي حفصې څخه نور المدارس ته بدل شوی دی.

2.5 فعالیت: د ارالعلوم ته د مدرسې لوړول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه، د دارالعلوم د معیارونو نه پوره کېدو له کبله مدرسو؛ دارالعلوم کچې ته ارتقاء نه ده کړې.

2.6 فعالیت: دارالعلوم ته د لوړولو په موخه د مدرسو بررسي کول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې،دا فعالیت نه دی تر سره شوی.

## 1.6 د ټولنې ګډون

د اسلامي زده کړو پروګرام په دې برخه کې هیڅ ډول لومړیتوب یا فعالیت په عملیاتي پلان کې شامل نه دی.

## 1.7 مدیریت

1.7.1 لومړیتوب: د دارالعلومونو د ښوونکو، مامورینو او اجیرانو ازموینه اخیستل

1.1 فعالیت: د دارالعلومونو د ښوونکو، مامورینو او اجیرانو د ازموینې اخیستل

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دارالعلومونو د ښوونکو، مامورینو او اجیرانو ازموینه د پوهنې وزارت ۱۴۴۶/۱۰/۲۱ نېټې د ۴۵۵٦ ګڼې حکم په اساس بند دي.

1.7.2 لومړیتوب: د اسلامی زده‌کړو د ښوونیزو او تحصیلي مرکزونو د تشکیلاتو د اړتیاوو د رفع کولو لپاره د بستونو وېش

2.1 فعالیت: هغه مرکزونو ته د بستونو لېږد او وېش چې ورته اړتیا لري

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو آمریت اړوند دیني مدارسو لپاره چې کوم بستونه په واک کې ورکړل شوي وو؛ تنقیص شوي او نوی تشکیل نه دی ورکړل شوی.

**1.7.3 لومړیتوب: د اسلامي زده‌کړو د ښوونیزو او تحصیلي مرکزونو د تأسیس لپاره د بستونو وېش**

3.1 فعالیت: نویو تأسیس شوو ښوونیزو مرکزونو ته د بستونو لېږد او وېش

د ۱۴۰۴ کال د تشکیل کمیټې له لوري د تشکیلاتو د ستونزو تر حل کېدو پورې د ښوونکو د ګمارنې بهیر، ځنډول شوی دی، له همدې امله د یاد فعالیت په اړه کړنې ترسره شوې نه دي.

## برنامه 2:ښوونه او روزنه

## 2.1 زده کوونکی

**2.1.1 لومړیتوب: د ټول ګډونه شمولیت لپاره عامه پوهاوی او د زده کړو په شرایطو برابرو ماشومانو زده کړه**

1.1 فعالیت: د 1405هـ ل کال لپاره د عامه پوهاوي برنامې د دایرولو په موخه د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، دولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو د شوراګانو لارښوونه؛

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د لوګر د پوهنې ریاست اړوند د ښوونې او روزنې آمریت له لوري د زده‌کړې په شرایطو برابر ماشومانو د پراخ شمولیت او زده‌کړې په موخه، د اړوند پوهنې امریتونو او ښوونځیو په کچه د عامه پوهاوی لارښوونې ورکړل شوې دي، چې په دې سره د پوهې څخه د خلکو ملاتړ کچه لوړه شوې.

1.2 فعالیت: د مرکز، ولایتونو، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو په کچه د عامه پوهاوي د برنامې تدویرول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د زده‌کړې د شرایطو وړ ماشومانو د پراخ شمولیت او زده‌کړې د تشویق په موخه، د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا علمي غړو له خوا د مرکز په کچه ۴، د ولسوالیو په کچه ۸۶، او د ښوونیزو مرکزونو په کچه ۱۸۰ د عامه پوهاوي غونډې ترسره شوې دي.

1.3 فعالیت: د ښوونځیو د شوراګانو له کړنو ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د ۱٦۷ بابه ښوونځیو د شوراګانو له کړنو څخه ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده، چې په پایله کې د زده کړیزو چارو د ښه والي په موخه ورته سپارښتنې شوې او لازمې مشورې ورکړل شوې دي.

1.4 فعالیت: د سړو او تودو سیمو په بېلا بېلو برخو کې د عامه پوهاوي د برنامې دایرول او لارښوونې

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د سوادآموزی مدیریت له لوري د اړوند پوهنې امریتونو په ۸۴ سړو سیمو کې د پوهې څخه د ملاتړ د جلبولو په موخه د عامه پوهاوي غونډې دایر شوې دي، چې په پایله کې د زده کړو څخه د خلکو ملاتړ کچه لوړه شوې.

1.5 فعالیت: د غږیزو او انځوریزو رسنیو له لارې د عامه پوهاوي پیغامونو خپرول او د تبلیغاتي پاڼو او بروشرونو چاپ

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د زده‌کړو په شرایطو برابرو ماشومانو د پراخه شمولیت او زده‌کړې لپاره د عامه پوهاوی غږیز او انځوریز پیغامونه نه دي خپاره شوي.

2.1.2 لومړیتوب: د زده‌کړې په شرایطو برابرو ماشومانو او افرادو په ځانګړې توګه د راستنېدونکو او داخلي بې‌ځایه شوو د شمولیت لپاره د زمینې برابرول

2.1 فعالیت: په ټولو ښوونیزو مرکزونو کې د زده کوونکو غیرحاضري او د زده کړو پرېښودل ۲ سلنه کموالی مومي

نوموړی فعالیت په اصلاح شوي عملیاتي کې حذف شوی.

2.2 فعالیت: د لومړنۍ دورې د جدید الشمولانو جذب

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند د اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت له لوري په سړو او تودو سیمو ښوونځیو په لومړنۍ دوره کې ۱۵،۹۸۲ تنه جدید الشمول زده کوونکي جذب شوي دي چې له دغې ډلې څخه ۱۰،۲۰۱ تنه نارینه زده کوونکي او ۵،۷۸۱ تنه ښځینه زده کوونکي جذب شوي دي.

2.3 فعالیت: په لومړنۍ، منځنۍ او لېسې دورو کې د ټولګي او سویې د تثبیت ازموینې له لارې د مجاهدینو، راستنېدونکو او همدا رنګه د سوابقو راوړونکو او تر لندمهاله ښوونو لاندې د جدیدالشمولانو جذبول.

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند د اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت له لوري، د ټولګي او سویې د تثبیت ازموینې له لارې په لومړۍ دوره کې ۱۷۸ تنه زده کوونکي شامل شوي دي، همدارنګه په منځنۍ دوره کې ۴۷ تنه او لیسې دوره کې د راستنیدونکو په ګډون ٦١ تنه زده کوونکي د خپلې سویې له مخې شامل شوي دي.

2.4 فعالیت: د کوچیانو د جدیدالشمول زده کوونکو جذبول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند د اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت له لوري، ۳۰۸ تنه کوچیان، په اړوند زده کړیزو حوزو کې جذب شوي دي، چې په دې سره ورته د زده کړو زمینه ورته برابره شوې ده.

2.5 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د پوهنې د مرسته کوونکو مؤسسو په واسطه له ښوونځي څخه مخکې ښوونو کې د جدیدالشمولانو جذبول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د یونیسف نړیوالې مؤسسې له لوري د ښوونځي څخه مخکې ښوونو کې ۳۰۰ تنه جدید الشمول زده کوونکي جذب شوي دي.

2.6 فعالیت: له پولې څخه بهر د ښوونیزو اسنادو د نه لرونکو را ستنېدونکو او مجاهدینو د ټولګي تثبیت

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند د اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت له لوري ۱۰۲ تنه راستنېدونکو زده کوونکو او ۹۴ تنه د مجاهدینو سویې تثبیت شوې.

2.1.3 لومړیتوب: د زده کړو په شرایطو برابرو لویانو لپاره د شمولیت د زمینې برابرول

3.1 فعالیت: د هر ښوونیز مرکز تر پوښښ لاندې سیمه کې د اړوندو مرکزونو په مرسته د ټولو د زده کړو په شرایطو برابرو لویانو لېست برابرول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند د اساسي او ثانوي زده کړو مدیریت له لوري د هر ښوونیز مرکز تر پوښښ لاندې په سړو او تودو سیمو اړونده مرکزونو کې د رسمي ښوونکو له لارې ۱۲۲۵تنه په شرایطو برابر لویان د سواد زده کړې په کورسونو کې شامل شوي دي.

3.2 فعالیت: د کوچیانو د په شرایطو برابرو لویانو شمولیت

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د شرایطو وړ لویانو او کوچیانو لپاره د سواد زده کړې کورسونو کې د شاملېدو لپاره د پوهنې وزارت له لوري ځانګړی سهم نه دی ځانګړی شوی.

3.3 فعالیت: د مسجدونو د ملا امامانو له لارې د په شرایطو برابرو لویانو شمولیت

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د شرایطو وړ لویانو لپاره د مسجدونو د ملا امامانو له لارې د سواد زده کړې کورسونو کې د شاملېدو لپاره د پوهنې وزارت له لوري ځانګړی سهم نه دی ځانګړی شوی.

3.4 فعالیت: د سواد زده کړې په کورسونو، سواد حیاتي او حرفوي ښوونځیو کې په شرایطو برابرو لویانو شمولیت

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د سواد حیاتي او حرفوي ښوونځي نه لرو، له همدې امله یاد فعالیت ترسره شوی نه دی.

3.5 فعالیت: د داخلي بېځایه شوو او راستنېدونکو شمولیت

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه یاد فعالیت د بودجې او ځانګړي سهم د نشتون له امله نه دی ترسره شوی.

<u>2.1.4 لومړیتوب: د روغتیایي مرکزو په مرسته د جدیدالشمولانو د روغتیا په ځانګړې توګه د اوربدلو، لیدلو، ژامو،خولې، غاښونو او ساري ناروغیو د معایناتو څخه ډاډ ترلاسه کول</u>

4.1 فعالیت: دجدیدالشمولانو له روغتیا څخه ډاډ ترلاسه کول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند د روغتیا مدیریت له خوا د روغتیایي مرکزونو په مرسته د ۳۲ تنه جدیدالشمولانو روغتیایي حالت په ځانګړې توګه د اوربدلو، لیدلو، ژامو،خولې، غاښونو او ساري ناروغیو معاینات ترسره شوي دي.

<u>2.1.5 لومړیتوب: د هېواد په ښوونځیو کې د ټولو زده‌کوونکو لپاره د کولمو چینجیو د له منځه وړلو سراسري کمپاین</u>

5.1 فعالیت : د روغتیایي تبلیغاتي موادو، حفظ‌الصحې، نظافت کیټونو او لومړنیو مرستو توکو وېش.

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د روغتیا مدیریت له لوري په اړوند پوهنې آمریتونو کې د تبلیغاتي موادو ۴۰۰۰ پاڼې او د روغتیا ساتنې ۲۰ کیټونه وېشل شوي دي.

5.2 فعالیت: د ښوونځیو په کچه ټولو زده‌کوونکو ته د کولمو د چینجیو ضد ټابلیټونو وېش

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د روغتیا مدیریت له لوري د کولمو د چینجیو له منځه وړونکي (البندازول) ۷۰۰۰ ټابلیټونه د خوښي ولسوالۍ آمریت اړوند ۷۰۰۰ تنه زده کوونکو ته وېشل شوي، چې په ترڅ کې نوموړي زده کوونکي له روغتیا خدماتو څخه برخمن شول.

<u>2.1.6 لومړیتوب : د ښوونځیو په کچه د سیالیو په لاره اچول او د ورزشي څېرو پېژندل.</u>

6.1 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د غوره ټیمونو د ټاکلو په موخه په ښوونځیو کې د بهاري او خزاني مناسبتي او دوستانه سیالیو په لاره اچول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند د بدني روزنې مدیریت له خوا د ښاري پوهنې آمریتونو اړوند ښوونځیو کې د غوره ټیمونو د ټاکلو په موخه د کرکټ سیالۍ ترسره شوې دي.

2.1.7 لومړیتوب: په خصوصي ښوونځیو کې د ښوونې او روزنې زمینه برابرول

7.1 فعالیت: د هغه زده‌کوونکو د درېکلنو نمرو ترتیبول او ژباړل چې د زده‌کړو د دوام په موخه له هېواد څخه بهر سفر کوي

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د لوګر د پوهنې ریاست د اساسي او ثانوي زده کړو عمومي مدیریت ته د هغو خصوصي زده‌کوونکو له لوري چې په بهر کې زده کړې کوي، د درې کلنو نمرو د ترتیب او ژباړې په اړه مراجعه نه ده شوې.

7.2 فعالیت: د اړوندو قوانینو او لارښودونو سره سم د خصوصي زده‌کړو د زده‌کوونکو د تصدیق پاڼو اجرا کول.

یاد فعالیت په مرکز کې ترسره کیږي، د یاد ولایت په کچه په اړوند برخه کې کړنې نه دي تر سره شوې.

7.3 فعالیت: په خصوصي ښوونځیو او کورسونو کې د شهیدانو او معلولینو ورثه‌وو، یتیمو او بېوزله ماشومانو د فیس د تخفیف اجرا کول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست او (طلوع تنویر، لوګر سنتر، دارالهدا او القلم) خصوصي ښوونځیو او کورسونو له لوري ۵۵ تنه د شهیدانو او معلولینو ورثه وو، یتیمو او بېوزلو زده کوونکو په فیسونو کې تخفیف رامنځته شوی.

2.1.8 لومړیتوب: د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو لپاره د ساینس او ریاضیاتو د علمي المپیادونو(سیالیو) او عملي پروژو دایرول

8.1 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته لارښوونه.

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د مسلکي پراختیا غړو له لوري، د پوهنې ریاست د مرکزي هستې اړوند ۱۰۰ تنه غړو ته د یاد لارښود په اړه لارښوونې ترسره شوې دي.

8.2 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د (مسلکي پراختیا غړو له لوري، د (مرکز، محمدآغه، برکی برک، خرخ، خوشی، ازره خروار) پوهنې آمریتونو اړوند (مسلکي پراختیا ) غړو ته د یاد لارښود په اړه لارښوونې ترسره شوې دي.

8.3 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ښوونیزو مرکزونو لارښوونه

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د (مسلکي پراختیا غړو له لوري، په ۱۰۵ بابه ښوونځیو کې د یاد لارښود په اړه لارښوونې ترسره شوې دي.

8.4 فعالیت: د ښوونیزو مرکزونو په کچه د علمي المپیادونو (سیالیو) او عملي پروژو دایرول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د لوګر ولایت اړوند د (ساینس مدیریت) له لوري په ۲۰ بابه ښوونیزو مرکزونو کې د (د ساینس او ریاضیاتو پروژې) تر عنوان لاندې (ساینس او ریاضیات) علمي سیالۍ جوړې شوې دي.

8.5 فعالیت: د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو په کچه د علمي المپیادونو او عملي پروژو دایرول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ساینس مدیریت له لوري، د ښارې، برکی برک، خرخ، محمدآغه، و خوښې پوهنې آمریتونو په کچه د (د ساینس او ریاضیاتو د پروژو) تر عنوان لاندې علمي سیالۍ جوړې شوې دي.

8.6 فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو په کچه د علمي المپیادونو او عملي پروژو دایرول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د ساینس مدیریت له لوري، د ساینس او ریاضیاتو د پروژو تر عنوان لاندې علمي سیالۍ جوړې شوې دي.

## 2.2 ښوونکی

2.2.1 لومړیتوب: د ورسپارل شوو دندو پرمخ وړلو په موخه د ساینس مرکز د مرکزي او ولایتي علمي غړو روزنه

1.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو د ساینس مرکزونو د علمي غړو لپاره د ښوونیزې برنامې دایرول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ورسپارل شوو دندو د پرمخ وړلو په موخه، د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند د ساینس مسلکی غړو ۳ غړو ته د ساینس مدیریت له لوري سمینار دایر شوی، چې په دې سره د ګډونوالو علمي کچه په اړوند برخه کې لوړه شوې.

2.2.2 لومړیتوب: د رشتې خلاف او غیر مسلکي ښوونکو او مدیرانو د وړتیا لوړل او مسلکي پراختیا

2.1 فعالیت: د رشتې خلاف ښوونکو د مسلکي جوړونې یو کلنې برنامې دایرول

د مالي امکاناتو د نشتون له کبله یاد فعالیت ترسره شوی نه دی.

2.2 فعالیت: د رشتې خلاف او غیرمسلکي ښوونکو او ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر لابراتوارونو د وړتیا لوړول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د رشتې خلاف او غیر مسلکي ښوونکو ته په ۳ ولسوالیو (ښاري، برکي برک او خوښی) د وړتیا لوړولو په موخه ۸ ورځنی سیمنار دایر شوی دی.

2.2.3 لومړیتوب: د ساینس، ریاضیاتو اوکمپیوټر د ښوونکو او ښوونیزو مرکزونو د لابراتوارونو وړتیا لوړول او مسلکي پراختیا

3.1 فعالیت: د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د ښوونکو او ښوونیزو مرکزونو د لابراتوارونو لپاره د ورکشاپونو دایرول

د ۱۴۰۴ کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د وړتیا لوړولو په موخه، د ۳ ولسوالیو (ښار، برکی برک او خوښی) په پوهنې آمریتونو کې ۱۱۰ تن د ساینس، ریاضیات او کمپیوټر ښوونکو ته شپږ ورځنی سمینار دایر شوی.

2.2.4 لومړیتوب: د رشتې خلاف ښوونکو د ستونزو حلولو لپاره د تدبیرونو نیول

4.1 فعالیت: د رشتې خلاف ښوونکو د پېژندلو په برخه کې د ولایتونو د پوهنې ریاستونو او ولسوالیو پوهنې آمریتونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند د ۷ ولسوالیو پوهنې امریتونو په کچه د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د رشتې خلاف ښوونکو د پېژندلو په موخه لارښوونې ترسره شوې دي.

4.2 فعالیت: د رشتې خلاف ښوونکو پېژندل او معلوماتو راټولول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند د (ښارې، برکی برک، خوشي، محمدآغه، خرخ. ازره او خروار) ولسوالیو پوهنې امریتونو په کچه ۳۰ تنه د رشتې خلاف ښوونکي د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري پیژندل شوي او معلومات یې راټول شوي دي چې د ستونزو د حل په موخه ورته زده کړه ییزې حلقې جوړې شوې دي.

2.2.5 لومړیتوب: د موجودو مدرسانو، ښوونکو او ښوونکو د رشتې سره سم توظیف لپاره لازم تدبیرونه نیول

5.1 فعالیت: د رشتې سره سم د ښوونکو د توظیف د لارښود د تطبیق په برخه کې د ولایتونو د پوهنې ریاستونو، ولسوالیو پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو کارکوونکو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند د ښوونکو د رزونې او مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د اړوند (ښارې، خوشي، برکی برک، خرخ، خروار، ازره او محمدآغه) ولسوالیو پوهنې امریتونو په کچه، لارښوونې ترسره شوې دي.

5.2 فعالیت: د رشتې سره سم د ښوونکو د توظیف د لارښود له تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند د ښوونکو د رزونې او مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د اړوند ۷ ولسوالیو پوهنې امریتونو په کچه، د ۲۸۹ بابه د عمومي زده کړو ښوونځیو ۲۰۰ تنه د رشتې موافق ښوونکي پیژندل شوي دي.

2.2.6 لومړیتوب: د اصولو صنفي لپاره د مناسب ترین ښوونکي د توظیف لپاره لازم تدبیرونه نیول

6.1 فعالیت: د جوړ شوي لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو پوهنې ریاستونو، ولسوالیو پوهنې آمریتونو او ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست، (برکی برک) ولسوالی د پوهنې آمریت او د ۱ باب ښوونیز مرکز په کچه د صنفي اصولو دورې لپاره د وړ ښوونکي د ګمارلو لارښود په اړه لارښوونې ترسره شوې دي.

6.2 فعالیت: د صنفي اصولو دورې لپاره د مناسب ترین ښوونکي د توظیف د لارښود له تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه ملاتړیزه څارنه

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د ښوونکو مسلکي پراختیا علمي غړو له خوا د صنفي اصولو دورې لپاره د وړ ښوونکو د ګمارلو لارښود له تطبیق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه د ۲۸۹ بابه ښوونځیو څخه ملاتړیزه څارنه ترسره شوې ده.

2.2.7 لومړیتوب: په ټولو ولایتونو او ولسوالیو کې د مسلکي پراختیا د غړو د ګمارنې بشپړول او هغوی ته د د ورسپارل شوو دندو د پرمخ وړلو لارښوونه کول

7.1 فعالیت: دولایتونو په کچه د مسلکي پراختیا د غړو د ګمارنې بشپړول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه ۱۳ تنه د ښوونکو مسلکي پراختیا غړي چې له دې ډلې (۵) تنه د ښارې پوهنې آمریت په کچه،۴ تنه د محمدآغې او ۴ تنه د خرخ پوهنې آمریت په کچه ګمارل شوي دي.

7.2 فعالیت: د مسلکي پراختیا د غړو لپاره د دندو د چوکاټ، دندو لایحو، څارنیزو وسیلو، دافکارو د روښانه کولو او مسؤلیت منلې په اړه د معرفتي او لارښودیزې ښوونیزې برنامې دایرول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د مسلکي پراختیا ۱۱ تنو غړو ته په جدی میاشتو کې ښوونیزو برنامې دایر شوي ده.

7.3 فعالیت: د مرکزي هستې او ولایتونو د علمي غړو لپاره د ښوونیز تریننګ دایرول

د ۱۴۰۴ کال درېیمې ربعې تر پای پورې، د مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند ۱۳ علمي غړي روزل شوي دي، چې په دې سره د یادو غړو علمي سویه لوړه شوې.

2.2.8 لومړیتوب: د ښوونځیو د شورا د غړو لپاره د وړتیا لوړونې برنامو دایرول

8.1 فعالیت: د شوراګانو د ښوونیزې اداري د علمي غړو وړتیا لوړونه

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه یاد فعالیت د پوهنې وزارت د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا ریاست له لوري نه دی ترسره شوی.

8.2 فعالیت: د ښوونځیو د شورا د غړو وړتیا لوړونه

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای، یاد فعالیت د پوهنې وزارت د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا ریاست له لوري نه دی ترسره شوی.

2.2.9 لومړیتوب: د نویو مقرر شوو ښوونکو او مدیرانو د وړتیا لوړول او مسلکي پراختیا

9.3 فعالیت: د نویو مقرر شوو ښوونکو لپاره د وړتیا لوړونې ښوونیزې برنامې دایرول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه، د (مسلکي پراختیا غړو له لوري ۳۰۰تنه نوي مقرر شوي ښوونکي د ظرفیت لوړولو په موخه روزل شوي.

9.4 فعالیت: د نویو مقرر شوو سرښوونکو او مدیرانو لپاره د وړتیا لوړونې ښوونیزې برنامې دایرول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه، د مسلکي پراختیا غړو له لوري ۵۰تنه نوي مقرر شوي سر ښوونکي د ظرفیت لوړولو په موخه روزل شوي.

2.2.10 لومړیتوب: د ښوونکو، زده‌کوونکو او کارکوونکو لپاره د وړتیا لوړونې زمینې برابرول

10.1 فعالیت: د ښوونکو لپاره د روغتیایي ورکشاپونو دایرول

یاد فعالیت د مرکزي هستې له لوري ترسره کیږي، او د دې ولایت په کچه په اړونده برخه کې کړنې نه دي ترسره شوې.

10.2 فعالیت: د روغتیا مدیرانو لپاره د ورکشاپونو دایرول

یاد فعالیت د مرکزي هستې له لوري ترسره کیږي، او د دې ولایت په کچه په اړونده برخه کې کړنې نه دي ترسره شوې.

2.2.11 لومړیتوب: د سواد زده‌کړې برنامې ته د رضاکاره او افتخاري ښوونکو د جلب او جذب لپاره د سیمې د خلکو همکاري

11.1 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونو کې د ښوونکي د کموالي د رفع کولو لپاره د سیمې د خلکو په واسطه د غیر رسمي ښوونکو ګمارل او افتخاري تدریس

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د برکي برک پوهنې آمریت اړوند ۱ تن ، ۱ تن د محمدآغې، ۲ تنه د ازرې او ۸ تنه د خرخ پوهنې آمریت اړوند ښوونځیو کې د سیمې خلکو په ملاتړ په نارسمي ډول د ښوونکي په صفت گمارل شوي دي.

### 2.3 نصاب

**2.3.1 لومړیتوب: د اړوند مضمونونو په زده‌کړه کې د سیمه‌ایزو عیني تجربو او موادو څخه د گټې اخیستل ترویجول**

1.1 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو د ساینس مرکزونو علمي غړو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د ساینس مرکز له لوري ۱۱ تنه د ساینس مرکز علمي غړو ته د لارښود تطبیق په موخه لارښوونې تر سره شوې دي، او یاد فعالیت ۱۰۰ سلنه تطبیق شوی دی.

1.2 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د لوگر پوهنې ریاست له لوري ۷ تنه د پوهنې آمرینو ته د لارښود تطبیق په موخه لارښوونې تر سره شوې دي، او یاد فعالیت پلان عملیاتي له مخې ۱۰۰ سلنه تطبیق شوی دی.

1.3 فعالیت: رهنمود د لارښود د تطبیق لپاره ښوونیزو مرکزونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ۱۵۰ بابه ښوونیزو مرکزونو په کچه د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو له لوري ۱۰۰ تنه ښوونکو، سرښوونکو او مدایرانو ته د لارښود تطبیق په موخه لارښوونې تر سره شوې دي، او یاد فعالیت دپلان عملیاتي له مخې ۱۰۰ سلنه تطبیق شوی دی.

**2.3.2 لومړیتوب: د ښوونیز نصاب سره سم د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د تجربو د لارښود کتابونو بیا کتل او ویش یې**

2.1 فعالیت: د ښوونکو او دارالعلومونو د مدرسینو لپاره له ۴ څخه تر ۱۲ ټولگي پورې د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د تجربو د لارښود کتابونو وېش

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د ښوونکو او دارالعلومونو د مدرسینو لپاره د ۴ څخه تر ۱۲ ټولگي پورې د ساینس ۵۰ ټوکه او د ریاضیاتو ۵۰ټوکه د تجربو لارښود کتابونه ۲۰ بابه ښوونځیو ته د ساینس مدیریت له خوا ویشل شوي دي.

**2.3.3 لومړیتوب: درسي مرستندویه موادو (د ریاضي، بیولوژي کیټونو، ښوونیزو چارټونو او ویدیوگانو) ته د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو د لاسرسي زمینه برابرول**

3.1 فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو څخه د ولسوالیو/ ښوونیزو حوزو د پوهنې آمریتونو ته د مرستندویه درسي موادو لېږدول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د (محمدآغې) پوهنې امریت په کچه د خدماتو مدیریت له لوري ۸ بابه ښوونځیو ته ۱۴د ریاضي کیټونه ویشل شوي دي، او یاد فعالیت ۱۴ سلنه تطبیق شوي دي.

3.2 فعالیت: د ولسوالیو/ښوونیزو حوزو د پوهنې آمریتونو څخه ښوونیزو مرکزونو ته د مرستندویه درسي موادو لېږدول

د ۱۴۰۴ کال درېیمې ربعې تر پای پورې، د (محمدآغې) پوهنې امریت په کچه د خدماتو مدیریت له لوري ۸ بابه ښوونځیو ته ۱۴د ریاضي کیتونه ویشل شوي دي، او یاد فعالیت ۱۴ سلنه تطبیق شوي دي.

3.3 فعالیت: د طالب العلمانو، حافظانو، زده‌کوونکو او سواد زده‌کوونکو لپاره د مرستندویه درسي موادو ویش

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د ساینس مدیریت له لوری ٦٨ بابه ښوونځیو ته مرستندویه درسي مواد ویشل شوي دي، چې له یادې جملې څخه ١٦ بابه د مرکز، ١٢ بابه د برکي برک، ۸ بابه د څرخ، ۵ بابه د خوشی، ۱۲بابه د محمدآغې ، ١١ بابه د ازرې او ۴ بابه ښوونځي د خروار پوهنې آمریت اړوند دي.

<u>2.3.4 لومړیتوب : د کمبودو کتابونو چاپ او د اصولو صنفي دورې ته یې په متوازن ډول ویش په ځانګړې توګه اساسي مضمونونه</u>

4.1 فعالیت: د درسي کتابونو د کمبود د رفع کولو په اړه د مرکز او ولایتي ریاستونو او ښکېلو اړخونو سره همغږي او اړتیا سنجونه

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند د کتابونو د ویش مدیریت له خوا د ټولو ولسوالیو پوهنې امریتونو سره په همغږۍ، د عمومي زده کړو د ښوونځیو او د اسلامي زده کړو د مرکزونو ۲۸توکه درسي کتابونو ته د اړتیا راپور ترتیب او د پوهنې وزارت سره په رسمي توګه شریک شوی دی.

<u>2.3.5 لومړیتوب: په ښوونځیو کې د بدني روزنې د ودې او پراختیا په موخه د بدنې روزنې د ښوونکو د لارښود کتاب ویشل</u>

5.1 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود کتاب ویشل

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د بدني روزنې د ودې په موخه د بدني روزنې مدیریت له لوري ۱۴ بابه ښوونځیو ته ۵ توکه د بدني روزنې کتابونه ویشل شوي دي.

<u>2.3.6 لومړیتوب: د سواد زده‌کړې برنامې د اړتیا وړ کتابونه</u>

6.1 فعالیت: د سواد زده‌کړې برنامې د اړتیا وړ کتابونو اړتیا سنجونه

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند د سواد زده کړې مدیریت له لوري د ۲ ولسوالیو پوهنې امریتونو په کچه د سواد زده کړې کورسونو د ۲۳۴ سیټه د کتابونو اړتیاوې سنجول شوې دي.

## 2.4 ښوونیزه ارزونه

د ۱۴۰۴ کال عملیاتي پلان کې کوم فعالیت او یا هم اولویت په دې برخه کې شامل نه دی.

## 2.5 ښوونیز چاپېریال

<u>2.5.1 لومړیتوب: په ښوونیزو مرکزونو کې د لابراتوارونو او کمپیټر لبونو جوړول او تجهیزول</u>

1.1 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونو کې د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د لابراتوارونو د جوړولو او تجهیز په موخه اړتیا سنجونه

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست د ولسوالیو پوهنې امریتونو اړوند ۱۰ بابه ښوونیزو مرکزونو کې د ساینس، ریاضیاتو او کمپیوټر د لابراتوارونو د جوړولو او تجهیز په موخه اړتیاوې سنجول شوې دي، د یادې سنجونې په پایله کې د ۴ ټوکه ریاضي کیټونو، ۴ ساینسي کیټونو او ۲ باب لابراتوارونو د جوړولو او تجهیز کولو اړتیا معلومه شوې ده.

1.2 فعالیت: د ښوونیزو مرکزونو لپاره د ساینس او ریاضیاتو د لابراتوارونو جوړول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د (برکی برک او ازره) ولسوالیو اړوند د ساینس مدیریت له لوري د ابراهیم خیل، حمید الله فاروقی او عثمان خیل منځنۍ ښوونځیو ته ۳ بابه د ریاضي او ساینس لابراتوارونه جوړ شوي دي.

1.3 فعالیت: په سامانونو او لابراتواري موادو د ښوونیزو مرکزونو د لابراتوارونو او کمپیوټرلبونو تجهیزول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند (دمحمدآغې، خوشی، برکی برک او ازرې) ولسوالیو لابراتوارونه او د حصارک لیسې کمپیوټر لب د ساینس مدیریت له لوري تجهیز شوي دي، چې په یادو تجهیزي موادو کې ۲۳۰ درسي کومکي مواد او ۳۸۱ وسایل شامل وو

~~2.5.2 لومړیتوب: د ادارو په ډیپوګانو کې د ګټې اخیستنې وړ منابعو (درسي کتابونه، میز او چوکۍ، توره تخته، مطبوع او غیر مطبوع قرطاسیه، فرش او خېمه، وسایط، وسایل، تجهیزات او لابراتواري موادو) پېژندل او د هغې متوازن وېش~~

2.1 فعالیت: د اړوندو ادارو په ډیپوګانو کې د وسایلو، تجهیزاتو او لابراتواري موادو پېژندل او په ښوونیزو مرکزونو کې د ګټې اخیستنې لپاره یې متوازن وېش

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند د ولسوالیو پوهنې امریتونو او ښوونځیو په ډیپوګانو کې ۱۲۷۳ قلمه مواد پېژندل شوي دي، چې له تشخیص وروسته ۴۱۲ قلمه مواد په متوازن ډول ویشل شوي دي، او یاد فعالیت د پلان عملیاتي له مخې ۱۰۰٪ پلي شوی دی.

~~2.5.3 لومړیتوب: د بې ښوونکو ټولګیو لپاره لازم تدبیرونه نیول~~

3.1 فعالیت: د بې ښوونکي درسي ټولګیو پېژندل

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست د ۷ ولسوالیو پوهنې امریتونو اړوند د ښوونکو مسلکي پراختیا علمي غړو له لوري د عمومي زده کړو ۲۸۹ بابه ښوونځیو ارزونه ترسره شوې، چې یادو ښوونځیو اړوند ۲۵۹ بابه بې ښوونکي درسي ټولګي پېژندل شوي دي.

3.2 فعالیت: د هغه ښوونیزو مرکزونو پېژندل چې پر ښوونکي یې د زده‌کوونکي نسبت د ټاکل شوي نورم نه ټیټ وي

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند د ښوونکو مسلکي پراختیا علمي غړو له خوا په ټولو ولسوالیو کې د ۱۰ بابه ښوونځیو د ښوونکو کمبود لرونکي ټولګیو احصائیه راټوله شوې، چې په یادو ټولګیو کې ټولټال ۱۰،۶۱۱ تنه زده کوونکي؛ د ټاکل شوي نورم مطابق ښوونکي نه لري.

3.3 فعالیت: د لارښود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته لارښوونه

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د پوهنې وزارت له لوري د لارښود د تطبیق لپاره اړینې لارښوونې نه دي ترسره شوې.

3.4 فعالیت: د لاربنود د تطبیق لپاره د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته لاربنوونه

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د پوهنې وزارت له لوري د لاربنود د تطبیق لپاره اړینې لاربنوونې نه دي ترسره شوې.

3.5 فعالیت: د لاربنود د تطبیق لپاره ښوونیزو مرکزونو ته لاربنوونه

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونیزو مرکزونو په کچه د پوهنې وزارت له لوري لاربنود نه دی را استول شوی.

3.6 فعالیت: په ښوونیزو مرکزونو کې د لاربنود تطبیقول

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د ښوونیزو مرکزونو په کچه د پوهنې وزارت له لوري لاربنود نه دی را استول شوی.

3.7 فعالیت: د مسلکي پراختیا د غړو د راپور له وړاندې کولو څخه وروسته د بې له ښوونکي ټولګیو لپاره د (خدمتي، قراردادي او رسمي) ښوونکي د برابرولو په موخه د کارکوونکو چارو له عمومي ریاست سره همغږي

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند د ښوونکو د مسلکي پراختیا علمي غړو له خوا یاد فعالیت نه دی ترسره شوی.

<u>2.5.4 لومړیتوب: د ازادې فضا ټولګیو لپاره د لازمو تدبیرونو نیول</u>

4.1 فعالیت: د هغه ښوونځیو پېژندل چې په آزاده فضا کې د ټولګیو لرونکي وي او هغه ټولګي چې په آزاده فضا کې قرار لري

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست اړوند د (مسلکي پراختیا غړو له خوا په ۷ ولسوالیو کې ٦٧ بابه ښوونیز مرکزونه او ۲۴۱ درسي ټولګي چې په ازاده فضاء کې قرار لري، پېژندل شوي دي.

4.2 فعالیت: د لاربنود د تطبیق لپاره د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته لاربنوونه

د ۱۴۰۴ هـ ش کال د څلورمې ربعې تر پای پورې، د دې ولایت پوهنې ریاست په کچه د پوهنې وزارت له لوري د لاربنود د تطبیق لپاره اړینې لاربنوونې نه دي ترسره شوې.

4.3 فعالیت: د لاربنود د تطبیق لپاره د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته لاربنوونه

